خانه نو   نوی کور

New Home

ISSUE 109   FEBRUARY 2025

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا که د افغانانو لپاره یو خبری خدمت دی

A news service for Afghans in America

NEW HOME is brought to you by Sahan Journal, Afghan Cultural Society,and Center for Victims of Torture.
It's reported and written by Hussain Ali Haidari.



Photo Credit: Hussain Haidari

# د ډونالډ ټرمپ اجرائیوی فرمانونه؛ کورنۍ د خپلو عزیزانو سره د یوځای کیدو په تمه دی

- د کډوالۍ پورې اړوند د ۲۰ څخه زیاتو اجرایوي فرمانونو لاسلیک کول
- د کډوالۍ پروګرامونو درې میاشتې ځنډول، د راتلونکي لپاره هیله
- د ټرمپ له امرونو څخه د افغانانو د مستثنئ کولو هڅه

Illustrator Credit: CVT

**د ډونالډ ټرمپ اجرائیوی فرمانونه؛ کورنۍ د خپلو عزیزانو سره د یوځای کیدو په تمه دي**

د روان کال د جنوري په ۲۰مه د واک له اخیستو راهیسې، ډونالډ ټرمپ د کډوالۍ اړوند له ۲۰ څخه زیات اجرایوي فرمانونه لاسلیک کړي دي. د دې فرمانونو له لاسلیک وروسته، په زرګونو افغانان چې غوښتل یې متحده ایالاتو ته ولاړ شي اغیزمن شوي دي. مهتاب، چې مستعار نوم یې دی، وایي چې پلار، مور، دوه وروڼه او دوه خویندې یې په افغانستان کې پاتې دي،او په خبره یې چې دا خپله شاوخوا درې کاله وړاندې له خپلې مور او یو ورور سره امریکا ته راغلی. مهتاب وایي چې په دې موده کې هغه تل د خپلې کورنۍ په اړه اندېښمنه وه او زیاتوي چې د هغې د کورنۍ د کډوالۍ چارو تر ډېرې اندازې پورې مختګ کړي وه خو د ټرمپ اجرایوي فرمان د هغې د کورنۍ د کډوالۍ پروګرام پروسه ځنډولې ده. د مهتاب کورنۍ د کډوالۍ پروسه د USRAP دفتر په همکارۍ ترسره کېده، خو د ډونالډ ټرمپ واک ته له راستنېدو سره، د کډوالۍ پروسه د دریو میاشتو لپاره وځنډول شوه. مهتاب وایي چې اوس په افغانستان کې د هغې کورنۍ تر بل هر وخت ډېره اندېښمنه ده چې امریکا ته د راتلو فرصت به له لاسه ورکړي. د افغان انتقالي بنسټ (افغان ایویک) په دې وروستیو کې په یوه بیان کې وویل چې شاوخوا شل زره افغان-امریکایي متحدین او د دوی کورنۍ د ټرمپ اداري د دې حکم څخه اغیزمن شوي او له یوې نامعلومې راتلونکې سره مخ دي. د دغو افغانانو ډېرۍ غوښتنلیکونه منل شوي دي، او د متحده ایالاتو په سفارت او د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) کې د مرکې وروسته، دوی متحده ایالاتو ته د الوتنې په تمه وو.

د ټرمپ له پرېکړې وروسته، یو شمېر امریکایي پخوانیو سرتیرو او د امریکا د استازو جرګې غړو له ډونالډ ټرمپ څخه وغوښتل چې په دې پروسه کې د افغانانو لپاره استثنا رامنځته کړي، خو د ډونالډ ټرمپ مرستیال ولسمشر جی ډی ونس وایي چې

خپل پوښتنې او نظر له موږ شریکې کړئ

651-504-8170

**ادامه ...**

دوی به هغو زرګونو افغان کډوالو ته چې په سمه توګه نه دي تایید شوي، امریکا ته د تګ اجازه ورنه کړي.

د امریکا مرستیال ولسمشر جي ډي وینس له سي بي ایس سره په یوه مرکه کې د ډونالډ ټرمپ د افغان کډوالو د بیا میشتیدنې پروګرام د ځنډولو د پرېکړې څخه په کلکه دفاع وکړه. هغه وویل چې د ځینو پناه غوښتونکو قضیې د امنیتي دلایلو له مخې متحده ایالاتو ته د ننوتلو دمخه په سمه توګه نه دي کتل شوي، چې اندېښنې یې راپورته کړې دي. په عین حال کې، محمد په مستعار وایي چې کورنۍ یې شاوخوا یوه میاشت دمخه قطر ته لاړه ترڅو د کډوالۍ پروسې بشپړې کړي. د محمد په وینا، د ټرمپ له پرېکړې وروسته، د هغه د کورنۍ برخلیک اوس روښانه نه دی. محمد وایي چې هغه په امریکا کې د خپلې کورنۍ لپاره یو کور کرایه کړی دی، خو هغه نه پوهیږي چې کورنۍ به یې کله ورسره یوځای شي. د محمد په وینا، هغه شاوخوا درې کاله د خپلې کورنۍ د کډوالۍ پروسې ته انتظار ایستلی خو، هیله شته چې درې میاشتې وروسته به د ټرمپ د کډوالۍ پروګرامونو په اجرایوي فرمانونو محدودیتونه لرې شي او زرګونه افغانان به وکولی شي چې امریکا ته کډوال شي. د امریکا حکومت د ۲۰۲۱ کال د اګست په میاشت کې د افغانستان له سقوط راهیسې شاوخوا ۱۸۰ زره افغانان له خپلو پخوانیو همکارانوپه توګه دې هیواد ته لیږدولي دي. د دغو افغانانو یو شمېر چې په دې وروستیو کې په متحده ایالاتو کې میشت شوي دي، د متحده ایالاتو د حکومت لخوا د کډوالو د بیا میشتیدنې مرستې بندولو وروسته په سخت وضعیت کې دي. په مستعار نوم دلته په راپور کې پیژندل شوي علي چې شاوخوا درې میاشتې وړاندې امریکا ته راغلی. هغه وایي چې هغه اداره چې د هغه د ځای پر ځای کولو او تر شپږو میاشتو پورې د هغه د کرایې ورکولو مسؤلیت یې درلود، یوه اونۍ دمخه اعلان وکړ چې نور د هغه د کرایې ورکولو توان نلري. هغه اوس د کار په لټه کې دی ترڅو خپل کرایه ورکړي. او سه به دا راتلونکي کې ولیدل شي چې ایا د ټرمپ اجرایوي فرمانونه په دې دوو قضیو کې تر دریو میاشتو یا ډېرو پورې پلي کیدی شي کنه؟